collegebound.wa.gov
collegebound@wsac.wa.gov
(انتخاب 1) 888.535.0747

کالج باونډ (College Bound) څه دی؟

د منځني ښوونځي زده‌کوونکي: غواړئ د روغتیا د یو متخصص په توګه له خلکو سره مرسته وکړئ؟ په زړه‌پورې توکي جوړ کړئ؟ ویډیویي ګېمونه جوړ کړئ؟ خپل کاروبار پیل کړئ؟ ستاسو خوب یا هیلې که هر څه وي، کالج باونډ (College Bound) ورته په رسېدلو کې مرسته کولای شي! کالج باونډ (College Bound) د عاید پر اساس د وړ زده‌کوونکو لپاره، د واشنګټن د کالج بلاعوضه مالي مرستې په ټېر (Washington College Grant)، د ایالتي مالي مرستې یوه وختي یا له مخکې ژمنه ده. دا مرسته په واشنګټن (دا مرسته په Washington کې) کې پر څه باندې 60 کالجونو، پوهنتونونو، او تخنیکي ښوونځیو کې د زده‌کړو د منځنۍ کچې لګښت (د دولتي کالج په نرخ سره)، فیسونو، او د کتابونو لپاره د یو کوچني مقدار لګښتونو په ورکړه کې مرسته کوي. تاسو کالج باونډ (College Bound) یئ؟

خوک وړ یا پر شرایطو برابر دي؟

ستاسو نوم‌لیکنه په خپله کېږي که:

- دولتي ښوونځي لولئ، د عاید له مخې وړ یا پر شرایطو برابر یې (لاندې جدول وګورئ)، او په اووم یا اتم ټولګي کې مو د وړیا یا ټیټې بیې غرمنۍ (Free or Reduced-Price Lunch, وړیا یا د ټیټې بیې غرمنۍ (FRPL)) لپاره نوم‌لیکنه کړې، یا تازه په نهم ټولګي کې یې پر شرایطو برابر شوي یئ، **یا**
- د اووم ټولګي او له لېسې څخه د فراغت تر منځ په ایالتي یا ایالت پورې اړوند روزنتون کې یئ.

که د FRPL لپاره وړ یا پر شرایطو برابر وئ، په خپل ښوونځي کې نوم‌لیکنه ورته وکړئ. په خپله به یا په اتومات ډول به په کالج باونډ (College Bound) کې نوم‌لیکنه وشي. نن له

2026-27 د عاید لارښودونه

د کورنۍ اندازه	کلنی عاید[1]	میاشتنی عاید	اونیز عاید
2	$40,034	$3,337	$770
3	$50,542	$4,212	$972
4	$61,050	$5,088	$1,175
5	$71,558	$5,964	$1,377
6	$82,066	$6,839	$1,579
اضافي غړي[2]	زیات کړئ $10,508	زیات کړئ $876	زیات کړئ $203

[1] د کورنۍ عاید باید له دغه مقدار څخه کم یا ورسره مساوي وي.
[2] د کورنۍ هر اضافي غړي لپاره، د ډالرو مقدار اضافه کړئ.

خپل سلاکار څخه وپوښتئ!

پر شرایطو د برابرېدلو نورې لارې:

زمونږ له دفتر سره اړیکه ونیسئ که تاسو:

- په WA کې خصوصي یا د کورني ښوونځي پروګرام لولئ او د عاید حدود پوره کوئ، **یا**
- د سرپرستۍ د پالنې په یو بل ډول کې یئ او د عاید پر اساس د FRPL وړ یئ.

څنګه پر شرایطو برابر پاتې شوو:

د پروګرام اړتیاوې:

- له WA لیسې، کورني ښوونځي څخه فارغ شئ یا په WA کې یوه GED(General Education Diploma, د زده کړو عمومي ډیپلوم) ترلاسه کړئ.
- که له لېسې څخه وروسته مستقیم څلور کلن کالج ته ځئ باید لږترلږه 2.0 جي‌پي‌اې (GPA(Grade Point Average, د نومرو اوسط)) ترلاسه کړئ (که د ټولنې کالج یا تخنیکي کالج ته ځئ د جي‌پي‌اې (GPA) اړتیا نشته).
- هېڅ جرمي محکومیت ونه‌لرئ.
- له لېسې څخه تر فارغېدلو وروسته په یوه کال کې پر شرایطو برابر یوه WA کالج یا مسلکي ښوونځي کې (له 60 څخه زیات دي!) نوم‌لیکنه وکړئ، او په ښه درجه کې پاتې شئ.

یادښت: له کالج باونډ (College Bound) څخه په کالج کې له نوم‌لیکنې وروسته یا د لېسانس سند تر لاسه کولو پورې، هر یو یې چې مخکې وي، تر شپږو کلونو پورې ګټه اخیستل کېدای شي.

څنګه پوهېږم چې یو کالج باونډ (College Bound) زده‌کوونکی یم؟

په پوسټ یا برېښنالیک کې به تازه معلومات ترلاسه کړئ. که خپل د تلېفون شمېره یا پستي پته بدلوئ، زمونږ له دفتر سره اړیکه ونیسئ تر څو کوم تازه معلومات له لاسه ورنه کړئ.

د مالي مرستې پیسې به څنګه ترلاسه کوم؟

- د لېسې په وروستي کال (او د کالج په هر کال) کې د مالي مرستې غوښتنلیک ثبت کړئ.
- د عاید او د ایالت د استوګنې اړتیاوې یا شرایط پوره کړئ.
- د WA په یو وړ کالج یا مسلکي ښوونځي کې نوم‌لیکنه وکړئ او په ښه درجه کې پاتې شئ. شاوخوا 60 ګډون‌کوونکي بنسټونه دي!

کالج باونډ (College Bound) بو پروګرام دی چې د واشنګټن د زده‌کوونکو د لاسته‌راوړنو د شورا (Washington Student Achievement Council) له خوا پرمخ وړل کېږي.

WASHINGTON STUDENT ACHIEVEMENT COUNCIL
EDUCATION · OPPORTUNITY · RESULTS